مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین

۲۰۲۶/۰۱/۲۶

# نړۍ د انارشيزم او زورواکۍ په لور

## (پنځمه او وروستۍ برخه)

د مقالو تېرو برخو ته په کتو سره ليدل کېږي چې نړۍ د انارشيزم او ګډوډيو لورته د روانيدو په وضعيت کې ده. د متحده ايالاتو د ولسمشر دونالډ ترمپ خپلسري او ليونتوب ټوله نړۍ په خاص ډول ځواکمن هېوادونه، د نړۍ سياست پوهان او شنونکي له سترو انديښنو سره مخ کړي دي.

د نن ټکی اسيا يوې تازه ټولپوښتنې ښودلې چې، په اروپايانو کې دا باور مخ په زياتېدو دی چې امريکا به د يو نړيوال ځواک په توګه په خپل حال پاتې نه شي.

د سپوتنک خبري اژانس د فرانسې، جرمني او ايټاليا په شمول د نړۍ په ۱۸ هيوادونو کې له څه باندې ۳۰۰۰ کسانو څخه د امريکا د زبرځواک قدرت په اړه پوښتنې کړي. د ټولپوښتنې پر اساس د جرمني ٪۶۹، د فرانسې ٪۵۵ او د ايټاليا ٪۵۱ وګړي په دې باور لري چې د شوروي اتحاد له ماتې وروسته امريکا د نړۍ په واکمنۍ کې ناکامه شوه. دا چې ولې په نړۍ کې د امريکا زبرځواکي له مينځه تللې او د زوال لړۍ يې پيل شوې، هسپانوي کارپوه (پيري اورتيګا) او ترکي څيرونکی (محمد علي ګولر) يې لاملونه په ګوته کړي دي.

د سوليېزو تحقيقاتو له پاره د «ډيلاس» مرکز رئيس (پيري اورتيګا) څرګندوي چې امريکا ته د نړۍ د يوازيني مقتدر ځواک فرصت په لاس ورغی، خو د دې پرځای چې د سولې له پاره کار وکړي، په نړۍ کې يې د خپل جيو-پوليټيک اهدافو د ترلاسه کولو له پاره منډې پيل کړې.

نوموړی وايي: « د شوروي اتحاد له ماتې وروسته امريکا د نړۍ په يوازيني زبرځواک بدله شوه، خو د دې پرځای چې د ملګرو ملتونو د اصولو په چوکاټ کې خدمت وکړي، له دې فرصت څخه يې ناوړه استفاده وکړه او په نړۍ کې يې د خپل نفوذ پراخولو ته لاس واچاوه».

د اورتيګا په اند د شوروي اتحاد له سقوط وروسته د واشنګټن لاسونه پرانيستل شول، منځني ختيځ ته يې وروغځول او آن په مسکو يې رايه هم نه وهله. د نوموړي په باور د همدغه خلاص مټ په پايله کې امريکا په افغانستان، عراق او ليبيا کې د اور لمبې بلې کړې.

پيري اورتيګا زياتوي: «په افغانستان او عراق باندې پوځي تجاوز او د ليبيا حکومت راپرځول د واشنګټن د هغو کړنو ګوت شمېر مثالونه دي چې په سيمه کې يې نا امنۍ ته لاره هواره کړه. د امريکا د ناسمې پاليسۍ له کبله نن د سيمې وضعيت داسې حد ته رسېدلی چې پخپله د واشنګټن څخه يې هم د حل لار ورکه کړې ده.»

د سياسي چارو ترکي کارپوه (محمد علي ګولر) هم دا نظر تاييدوي او وايي چې د شوروي اتحاد له سقوط سره جوخت امريکا خپلې ټولې هڅې په دې متمرکزې کړې چې څرنګه په نړۍ کې د يوازيني زبرځواک په توګه ظهور وکړي، په داسې حال کې چې د امريکا د زبرځواکۍ له پاره حالات او شرايط مساعد نه وو.

د نوموړي په باور، د امريکا د سوپر پاور نظريه فقط د ۱۹۹۱ – ۲۰۰۴ کلونو ترمينځ د پام وړ وه او په دغې لنډه ۱۳ کلنه موده کې امريکا واقعا ډير کوښښ وکړ چې د نړۍ واکمني ترلاسه کړي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ګولر وايي: «خو ډېر ژر نړۍ له دې مرحلې څخه تېره شوه او د ګڼ قطبي نوې مرحلې ته داخله شوه او نړيوالتوب يې په سيمه ييز توب بدل شو.»

هغه زياتوي چې په نړۍ کې درې پېښو د امريکا استکبار ته درنه ضربه ورسوله: په ۲۰۰۴ کال په عراق برید، په ۲۰۰۶ کال د اسرائيلو په وړاندې د حزب الله مقاومت او په ۲۰۰۸ کال د جورجيا جګړه. د ګولر په وينا، په يوويشتمه پيړۍ کې د نړيوالې زبرځواکۍ له پاره د امريکا ټولې هڅې له ناکامۍ سره مخ شوې.

هسپانوي کارپوه (پيري اورتيګا) د ترکي کارپوه (محمد علي ګولر) نظر تاييدوي او وايي:

«نن ورځ مونږ امريکا د نړۍ سوپر پاور نه شو بللی. نن ورځ روسيه د ۹۰يمو کلونو په څېر کمزورې نه ده. دغه راز چين هم ورځ تر بلې ځواکمنېږي او ډېر ژر به يې اقتصاد په نړۍ کې اول مقام خپل کړي.»

کارپوهان ټينګار کوي چې دا يو حقيقت دی چې نړۍ د ګڼ قطبي کېدو په لور روانه ده او په اروپا، اسيا او لاتيني امريکا کې نوي قوتونه د تبارز په حال کې دي.

د کارپوهانو په باور د امريکا د نړيوال استکبار د راپرځېدو نور اسباب هم شتون لري. د کولمبيا پوهنتون د ايرت انستيټوټ رئيس او امريکايي اقتصاد پوه (جيفري ساکس) وايي چې امريکا ته خپلو «استعماري خواهشاتو» ډېر زيان واړاوه. هغه زياتوي:

«په ۱۹۹۱م کال د سړې جګړې له پای ته رسېدو وروسته امريکا ته بهترين چانس په لاس ورغلی و چې په خپلو پاليسو کې بياکتنه وکړي، خو له بده مرغه امريکا ته خپلو استعماري خيالاتو دا اجازه ورنکړه چې په يوې سوليېزې نړۍ کې ژوند وکړي. هماغه و چې له سړې جګړې وروسته يې په يوې بلې جګړې لاس پورې کړ.»

نوموړی امريکايي اقتصاد پوه وايي چې امريکا په تېرو ۲۵ کلونو کې د خپل ولس د ټيکسونو بې کچې پيسې ضايع کړې او خپل امنيت يې لا پسې کمزوری کړ.

د هغه په باور، امريکا کولی شي چې د نړۍ د يو قطبي ساتلو له پاره خپلو بې ځايه پروژو ته دوام ورکړي، خو د دې معنی به دا وي چې د تعليمي بنسټونو، کاري ورتياوو، زېربناوو، ساينس او ټکنالوژۍ او د چاپېريال ساتنې په برخو کې د امريکايي ولس ټولې هيلې او اميدونه په اوبو لاهو شي.

امريکايي اقتصاد پوه (جيفري ساکس) خبرداری ورکوي چې امريکا د شوروي اتحاد په قدم روانه ده او د هغوی په قدم پل ږدي. نوموړی وايي:

«شوروي اتحاد د بهرنيو مداخلو له امله په لوی لاس خپل ځان د پولې ټک ته کښيناوه، د مثال په ډول په ۱۹۷۹م کال يې په افغانستان تجاوز وکړ او په نظامي چارو يې بې دريغه لګښتونه وکړل.»

هسپانوي کارپوه (پيري اورتيګا) هيله من دی چې ښايي د امريکا راتلونکی ولسمشر دغې خطرناکې تګلارې ته د پای ټکی کېږدي ځکه چې د نوموړي په اند، ډونالډ ټرمپ د امريکا نړيوال تسلط نه غواړي او په ناټو سازمان باندې د مالي لګښتونو طرفدار نه دی. پيري اورتيګا زياتوي:

«لنډه دا چې امريکا د يو زبرځواک په توګه نړۍ ته سوله او امنيت راونه وړل او همدا وجه ده چې نړۍ د امريکا له تسلط څخه اوزي او د ګڼ قطبي کېدو پر لور روانه ده.»

د اکراين د جګړې په هکله د امريکا او اروپا تر منځ د نظر او عمل توپيرونه، د روسي او اروپايي هېودو تر منځ ناندرې او ګواښونه، د ګرينلنډ د نيولو په برخه کې د ترمپ او د ناټو غړو هېوادو تر منځ اختلاف،
د ونزويلا د جمهور رئيس د نيولو اومحاکمه کولو په رابطه، د ترمپ مقابل کې د چين، روسي او شمالي کوريا ګوت څنډنې، په ايران کې د امريکا د لاسوهنو په اړه د ترمپ د سياستونوپه تقابل کې د چين او روسي دريدل، دا ټول هغه څه دي چې نړۍ د يوه ستر بحران او بدلون سره مخ کولای شي.

زما په اند که ترمپ دغه ليونتوبونو او استعماري پاليسی ته دوام ورکړي، ډېر امکانات شته چې ناټو و پاشل شي او نړۍ د څو قطبي کېدو لور خواته ولاړه شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ